مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې شپږمه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۲۵مه | ۶۶۹مه ګڼه

# پر ملکي تلفاتو اندېښنې؛

## روانه خطرناکه جګړه په بې رحمۍ د ملکي وګړو ژوند اخلي



۳

### په سوله کې د پاکستان دریځ او د افغانستان غوښتنې
۲ مخ

### په افغانستان کې د اوربند لپاره مناسب وخت
۲ مخ

### د جو بایډن اداره په منځني ختیځ کې له کومو ستونزو سره مخ ده؟
۳ مخ

## قریشي: د افغان سولې په برخه کې د بایډن له ادارې سره ګډ کار ته چمتو یو

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي ویلي، چې هېواد یې د افغان سولې لپاره ډېرې هڅې کړې او دوی غواړي چې اوس هم د امریکا له نوي حکومت سره په دې برخه کې په ګډه کار وکړي.
قریشي یو ځل بیا افغان سوله د ټولې سیمې په ګټه بللې او زیاته کړې یې ده، چې د سولې مذاکراتو پیل یو مهم پرمختګ دی او دا پروسه باید په پوره زغم سره پر مخ یووړل شي. نوموړي دا څرګندونې وروسته تر هغې کوي، چې د جو بایډن د بهرنیو چارو وزارت ته نومول شوي وزیر انټوني بلنکین ویلي وو چې له طالبانو سره به د سولې هوکړه له سره و ارزوي. په همدې حال کې افغان دولت هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره له پاکستانه غوښتنه کړې چې طالبان اوربند او له نورو ترهګرو ډلو سره د اړیکو پرې کولو ته وهڅوي.
یاد وزارت ویلي، چې له دې سره به د سولې مانا لرونکو خبرو او سیاسي توافق ته زمینه برابره شي. بهرنیو چارو وزارت یادې څرګندونې د افغان سولې په اړه د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر شاه محمود قریشي د ورمې ورځې وینا ته په ځواب کړې دي. شاه محمود قریشي په دې وروستیو کې ویلي وو چې په افغانستان کې د تاوتریخوالي زیاتوالی وضعیت نور هم خرابولی شي.

## طالبان: له امریکا سره شوې هوکړې ته ژمن یو، مقابل لوری دې هم ژمنتیا وښیي




۵ مخ

کاروبار
۴ مخ

## رولکس

رولکس په نړۍ کې د ساعت جوړولو تر ټولو مشهوره او وتلې کمپنۍ ده. د دې کمپنۍ ساعت د لومړي ځل لپاره ۳۰۰ متره تر اوبو لاندې د لسو ساعتونو لپاره کار وکړ.




## غوریاني: ډېر ژر به په هېواد کې دری سوه نوې جوړې شوې فابریکې پرانیستل شي




د سوداګرۍ وزیر نثار احمد غوریاني وایي، چې په هېواد کې دری سوه فابریکې د کارکولو لپاره چمتو شوې ډېر ژر به پرانیستل شي. نوموړي زیاته کړې چې په تېر مالي کال د دغه وزارت ۸۵ سلنه پراختیایي بودیجه لګول شوې او ترڅنګ یې د سوداګرۍ نړیوال سازمان له ۸۴ څخه ۴۰ ژمنې هم عملي شوې دي. هغه ویلي، چې په ۱۳۹۹ کال کې د سوداګرۍ وزارت ۹۴ سلنه عادي او ۸۵ سلنه پراختیایي بودیجه لګول شوې ده. نوموړي دا هم ویلي چې له دې وروسته به د افغانستان وچه او تازه مېوې یوازې پاکستان نه، بلکې د نړۍ نورو هېوادونو ته هم صادرېږي .
د هغه د معلوماتو له مخې، په تېر مالي کال کې د سوداګرۍ او صنایع وزارت د سوداګرۍ نړیوال سازمان له ۸۴ ژمنو څخه ۴۰ عملي کړې او پاتې نور یې د عملي کېدو په حال کې دي، خو نوموړي د دغو ژمنو په اړه جزیات نه دي وړاندې کړي.

## محب: حکومت برای فصل تازه جنگ آماده‌گی کامل گرفته‌است



در پی کندی در پیشرفت مذاکرات صلح در دوحه، حمدالله محب، مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهو غنی می‌گوید که حکومت افغانستان برای فصل تازه جنگ آماده‌گی کامل گرفته‌است.
آقای محب که دیروز به قول‌اردوی نیروهای اردوی ملی در کابل رفته بود، تأکید کرد که به تمامی قول‌اردوها در کشور رفته‌است و نیروهای اردوی ملی برای فصل آیندۀ جنگ بسیج شده‌اند.
مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور گفت که طالبان صلح نمی‌خواهند و اطلاعات استخباراتی نشان می‌دهند که این گروه برای بهار آینده در حال گرفتن آماده‌گی‌های نظامی هستند. به‌گفتۀ او طالبان می‌کوشند قدرت در افغانستان را از راه نظامی به دست بگیرند.
آقای محب گفت که پس از این تمامی نیروهای ویژۀ، امنیت ملی، پولیس و نیروهای هوایی برای سرکوب تحرک‌های طالبان از قول‌اردوی عملیات‌های ویژه دستور خواهند گرفت: «برای ما هم این فرض است که آماده‌گی قوی بگیریم. به‌همین منظور ما به تمامی ولایت‌ها رفتیم و به تمام قول‌اردوها گشتیم که با یک مشت محکم در برابر شان ایستاده باشیم.»
هرچند در سال‌های گذشته در فصل سرما از شدت حمله‌ها و نبردها در کشور کاسته می‌شد، اما امسال خشونت‌ها هم‌چنان بلند است و اکنون دو طرف نبرد برای فصل تازۀ نبرد در بهار آماده‌گی می‌گیرند.
حمدالله محب افزود: «طالبان صلح نمی‌خواهند. معلومات استخباراتی که از امنیت ملی به دست می‌آوریم معلوم می‌شود که طالبان آماده‌گی جنگ دارند.»

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

### په سوله کې د پاکستان دریځ او د افغانستان غوښتنې

پاکستان وايي چې د افغانستان په سوله کې له امریکا سره ګډ کار کوي. له هغه وروسته چې د امریکا نوې اداري وویل، له پاکستان سره د افغانستان د سولې په برخه کې ګډ کار کوي، پاکستان وايي، په دې برخه کې یې ډېرې هڅې کړي او لا زیاتې مرستې ته تیار دی. په همدې حال کې د افغانستان حکومت له پاکستان څخه غوښتي چې طالبان اوربند او له نورو ترهګرو ډلو سره د اړیکو پرې کولو ته وهڅوي.

پاکستان د افغانستان د سولې د روانې پروسې مهم او اساسي لوبغاړی دی. پاکستان په دې پروسه کې له امریکا سره ډېره مرسته کړې او لا یې هم کوي. په تېرو کلونو کې چې په افغانستان کې د امریکا تګلاره جګړه وه او غوښتل یې د جګړې له لارې خپلې موخې تعقیب کړي، نو پاکستان ورسره د جګړې په غځولو او ګرمولو کې مرسته کوله، خو چې کله د امریکا تګلاره سوله شوه، نو بیا یې په سوله کې هم ورسره مرسته وکړه. پاکستان دا هر څه له امریکا سره د معاملې له مخې کول. له یوه اړخه یې په دې کار سره د امریکا مرستې تر لاسه کولې او له بله اړخه یې په افغانستان کې خپلې ګټې هم لټولې. که د امریکا تګلاره جګړه وه، نو پاکستان هم خپلې موخې د جګړې له لارې تعقیبولې او چې اوس یې تګلاره سولې ته اوښتې، نو له دې لارې خپلې موخې تر لاسه کول غواړي. پاکستان له امریکا سره د ټکر پر ځای تل دا غوره ګڼلې چې ورسره دوستي وکړي او خپلې ګټې د امریکا د ګټو په سیوري کې ولټوي. اوس هم چې پاکستان وايي، په سوله که یې مرسته کړې او کوي یې، دا کار یوازې د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره کوي. امریکا هم درک کوي چې پاکستان یې په سیمه او افغانستان کې ګټې خوندي کوي، نو ځکه ورسره معامله کوي.

اوس دا چې افغانستان له پاکستانه ځینې غوښتنې لري، نو پاکستان ولې باید هغه عملي کړي؟

که خبره د ښه ګاونډیتوب او یا نورو ارزښتونو وي، پاکستان باید دا کار وکړي، خو اوس خو سیاستونه پر ارزښتونو نه، بلکې پر ګټو ولاړ دي، نو پاکستان ولې داسې کار وکړي چې په هغو که یې ګټې معلومې او خوندي نه وي!؟ د افغانستان حکومت چې له پاکستان اوس هم غواړي چې طالبان اوربند ته وهڅوي او یا یې هم له ترهګرو سره د اړیکو پرې کولو ته اړ کړي، دا یوه داسې غوښتنه ده چې پاکستان به یې هېڅکله ونه مني. د افغانستان د حکومت ستونزه دا ده چې په لوبه کې د ور ګډېدو پر ځای نور داسې کارونه کوي، چې هغه زموږ هېڅ ستونزه نه شي حل کولی. افغان چارواکي باید درک کړي چې امریکا په افغانستان کې نوره جګړه نه کوي او غواړي یو بدلون راولي. پاکستان هېڅ داسې څه نه کوي چې ګټه یې پکې نه وي. اوس د دې پر ځای چې د دغه بدلون پر وړاندې د درېدو کمزورې او بې پایلې هڅې وشي، ښه ده چې حکومتي چارواکي له دې چانس استفاده وکړي او د افغانستان د سولې او امن لپاره ترې ګټه واخلي. له دې پرته امریکایي تګلاره عملي کېدونکې ده او افغانستان بیا یوې بلې بدبختۍ ته روان دی.

# په افغانستان کې د اوربند لپاره مناسب وخت

فضل محمود علي

**لومړۍ برخه:**

د افغانستان د سولې هیله بښونکو او پېچلو خبرو ته په کتو سره داسې ښکاري چې د جګړې په سر د دواړو خواوو جوړجاړی به ډېر وخت ونیسي. دا چاره د افغانستان د حکومت او طالبانو تر منځ بشپړو خبرو اترو ته اړتیا لري، څو پکې مهمې سیاسي معضلې حل او له جګړې وروسته د راتلونکي حکومت په اړه پرېکړه وشي. په تېرو څو میاشتو کې چې د دولت پلاوي او طالبان سره د سولې خبرو ته ناست دي، جګړه، وژنې او ویجاړۍ ډېرې شوې دي، ان تر دې چې تر پخوا یې زور اخیستی دی. څرنګه چې د سولې بین الافغاني خبرې یو مهم پړاو ته ننوتې دي، له ډېرې خلکو سره دا پوښتنه پیدا کیږي چې افغانستان کې به کله اوربند کېږي؟ څرګنده ده چې د افغانستان عام وګړي چې هره ورځ د جګړې قرباني دي، تر هر چا ډېر اوربند ته لیوال دي. که څه هم په اخلاقي او انساني اصولو کې د انسان ژوند خورا مهم دی او باید چې د امکان تر حده وژغورل شي؛ خو له تاریخي لحاظه د اوربند کولو او جګړې ته د پای ټکي ایښودلو لپاره مناسب وخت کوم دی؟ اوربند له بین الافغاني مذاکراتو څخه د مخه وشي او که وروسته؟ ایا د افغانستان حکومت، نړیواله ټولنه او طالبان باید تر هر څه د مخه ژر تر ژره اوربند وکړي، څو د خلکو ژوند وژغورل شي؟ او یا دا چې سیاسي جوړجاړي ته چې تر ډېره به د یوې باثباته او تلپاتې سولې او دایمي اوربند ته لار هواروي، لومړیتوب ورکړي؟ په دې مقاله کې په نړۍ کې د بېلابېلو تر سره شویو اوربندونو کامیابۍ او ناکامۍ څېړل شوې او د افغانستان قضیې ته په کتو تر کتنې لاندې نیول شوې دي او په دې برخه کې په افغانستان کې د اوربند د مناسب وخت ټاکلو لپاره د نړۍ څو کورنۍ جګړې هم څېړل شوې دي، چې پکې اوربند د سولې له خبرو څخه مخکې، وروسته او یا د خبرو په لړ کې پلي شوی دی.

**پر مهمو مسایلو له هوکړې مخکې اوربند کول**

په افغانستان کې د سولې تر خبرو وړاندې د اوربند کولو لپاره لړ تر لړه درې بحثونه شته. لومړی دا چې د سولې خبرو ته تر کېناستو د مخه اوربند کول یو بشردوستانه عمل دی، چې په پایله کې یې د ډېرو انسانانو، څه د جګړې په دواړو خواوو کې او څه ولسي وګړو ژوند ژغورل کېږي. پر دې سربېره، د سولې خبرو ته تر کېناستو تر مخه د اوربند کول کولای شي چې د بې وزلو او جګړې ځپلو سره د مرستو په رسولو او وېش کې خورا مثبت رول ولوبوي.

دویم دا چې د سولې خبرو ته تر کېناستو د مخه اوربند کول د دواړو خواوو تر منځ د باور فضا رامنځته کوي، چې د سولې لپاره مهم فکتور بلل کېږي. له بلې خوا په اوسني ډول د جګړې دوام په خلکو کې د نفرت احساسات راپاروي او په دواړو خواوو کې د غچ اخیستلو حس قوي کوي، چې په پایله کې یې د اور لمن د دې پر ځای چې راټوله شي، لا پسې غوړېږي. د سولې خبرو ته تر کېناستو دمخه اوربند کول کولای شي چې د دواړو خواوو تر منځ د بې باورۍ فضا له منځه یوسي او یو پر بل باور رامنځته کړي، چې په دوه اړخیزه توګه جګړې ته د پای ټکي ایښودلو لپاره مهم فکتور ګڼل کېږي.

درېیم دا چې د اوربند په پایله کې په اسانۍ سره کېدلی شي چې په یوه ثابت حالت کې خبرې وشي، نه دا چې هره ورځ د جګړې میدان ته په کتو سره د دواړو لوریو په دریځ کې بدلونونه رامنځته شي او له یو بل څخه د نویو امتیازاتو تمه وکړي. یو ابتدایي اوربند کولای شي د جګړې میدان سوړ کړي او په ډېر احتمال سره د بین الافغاني خبرو لړۍ ګړندۍ او لنډه کړي. خو د سولې خبرو له پیل څخه د مخه د اوربند کولو له تاریخ څخه څه زده کولای شو؟ د تاریخ په معاصره دوره کې یوازې د شمالي ایرلینډ قضیه دا فرضیه ثابتوي چې د سولې له خبرو څخه د مخه اوربند کول ښایي د دوه اړخیزه جوړجاړي او کورنۍ جګړې ته د پای ټکي ایښودلو سبب وګرځي. د شمالي ایرلینډ شخړې درې لسیزې دوام وکړ (۱۹۶۹-۱۹۹۸) چې په دغه جریان کې بېلتون غوښتونکو غوښتل څو شمالي ایرلینډ له انګلستان څخه د تاوتریخوالي له لارې بېل کړي او د یوه خپلواک هېواد په توګه یې بنسټ کېږدي. د ایرلینډ خپلواک غوښتونکو ګرپونو تر منځ د متحد ایرلینډ پوځ او تر شا یې د سن فین حزب تر ټولو ډېر اثر لرونکي وو. د انګلستان حکومت تر هغې د سن فین حزب سره د سولې خبرو ته حاضر نه شو، څو چې د متحد ایرلینډ پوځ اوربند نه وو کړی. د سن فین حزب او د متحد ایرلینډ پوځ بالاخره د ۱۹۹۷ کال په اګسټ میاشت کې اوربند کولو ته چمتو شول او ډېر ژر د ټول شموله خبرو لومړی پړاو پیل شو چې په پایله کې یې د سولې تړون چې د بیلفاسټ یا د ښې جمعې تړون په نوم یادیږي، د سولې د خبرو ټولو ګډونوالو له لوري تایید شو.

په نورو مواردو کې ابتدایي اوربندونو ونشو کولای چې د سیاسي جوړجاړي په برخه کې د مذاکراتو لپاره یو مناسب محیط برابر کړي او په جګړه کې د ښکېلو اړخونو لپاره د قبلېدو وړ او د شخړو لپاره د حل قطعي پای ته رسېدو د ګړندیتوب سبب شي. د لیبریا لومړنۍ کورنۍ جګړه (۱۹۸۹-۱۹۹۶) یوه له داسې بېلګو څخه ده کوم ځای چې له مذاکراتو څخه مخکې اوربندونو نه یوازې هوکړې ته په رسېدو کې مرسته ونه کړه، بلکې د شخړو ودرېدو (اوربند) د جنګیالیو د بېرته راټولولو او دویم ځلې مسلح کولو لپاره فرصت برابر کړ، څو بېرته خپلو سختو جګړو ته دوام ورکړي. د لیبریا جګړه د ۱۹۸۹ کال د ډسمبر په میاشت کې هغه وخت پیل شوه کله چې په مخالفو ګروپونو پورې تړلو پاځون کوونکو د لیبریا ملي او وطنپالونکي ډلې (NPFL) د چارلز تیلور په رهبرۍ، د عاج ساحل له ګاونډي هېواد څخه پر دوی باندې حمله وکړه. دغه شخړه ډېر ژر د عامو خلکو پر وړاندې د ظلمونو په سیلاب بدله شوه.

د لوېدیځو افریقایي هېوادونو اقتصادي ټولنې (ECOWAS) د ۱۹۹۰ کال په شخړو کې مداخله وکړه او دې ته یې لومړیتوب ورکړ څو د جګړو لوري په دې راضي کړي چې اوربند ته غاړه کېږدي. د دې اقتصادي ټولنې مداخله د دې سبب شوه چې د ۱۹۹۰ کال په نوامبر میاشت کې اوربند پلی شي او باور کېده چې د اوربند پلي کېدل به د جګړې د قطعي پای ته رسېدو او د تلپاتې سولې اړوند لومړی مثبت ګام وي؛ خو دغو شخړو د ۱۹۹۲ کال په اکتوبر کې په یوې تخریب کوونکې حملې سره (د اکټوپوس عملیاتو په نامه) چېرته چې د NPFL جنګیالیو پر مونرویا باندې حمله وکړه، بیا ادامه پیدا کړه او وروسته له دې حملې څخه جنګونه په تیت شکل د هېواد په هره برخه کې پیل شول.

د جګړو له بیا پیل کېدو وروسته دغو څو متعددو جنګي وقفو جنګیالیو ته یو ځلې بیا د دې فرصت ورکړ، چې د تلپاتې سولې پر ځای د جګړې لپاره ځانونه اماده کړي او هر یو له دغو اوربندونو څخه مات شو. د هېڅ اوربند پایله داسې نه وه لکه څرنګه چې تمه ورڅخه کېده او هېڅ مرسته یې د مذاکراتو لپاره د یو مناسب محیط په رامنځته کولو او یوې ګډې هوکړې ته د رسېدو لپاره ونه کړه. لیبریا یوازې له هغو ډېرو بېلګو یوه ده چېرته چې لومړني تر سره شوي اوربندونه عملي شول؛ خو پایله یې ورنه کړه او ناکام شول. پر دې سربېره، دغه اوربندونه د جګړې د لا زیات ګرمېدو، اوږدو شخړو، د زیاتو وژنو او سختو ویجاړیو لامل شول. په نورو هېوادونو لکه دارفور (۲۰۰۳-۲۰۰۴)، بوسنیا (۱۹۹۴) او سریلانکا (۱۹۹۵) کې اوربند د مذاکراتو د پیل، د باور فضا د رامنځته کولو او د بشري لاملونو له کبله د لومړني شرط په توګه پېژندل شوی و. په ټولو دغو مواردو کې په جګړه کې ښکېلو اړخونو له دغو اوربندونو څخه ناوړه ګټه واخیسته او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره یې له تاوتریخوالي څخه کار واخیست؛ ځکه دوی عقیده درلوده چې نه شي کولای خپلو دغو موخو ته د شخړو په هغه مرحله کې د مذاکراتو په میز باندې ورسیږي.

مونږ له دغو ټولو مواردو څخه څه زده کولای شو؟ تاریخي شواهد ښیي چې اوربند به د افغانستان په ګټه نه وي؛ ځکه تر هغه چې د طالبانو او د افغانستان د جمهوري دولت مذاکره کوونکي ټیمونه یوې اجماع ته په اساسي سیاسي موضوعاتو یو توافق ته نه وي رسېدلي. د وختي اوربند منتقدین او نیوکه کوونکي ښایي دلیل راوړي چې هیڅ تضمین وجود نه لري، چې دغه وختي اوربند به د مرګ ژوبلې کچه را ټیټه کړي. تر هغه پورې چې عمده سیاسي موضوعات د مذاکره کوونکو په واسطه نه وي حل شوي، دا چاره تر هغه مثبته پایله نه ورکوي؛ ځکه چې دا ډول اوربند به د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د سیاسي جوړ جاړي پر بنسټ نه وي، نو ځکه به نازک او ماتېدونکی وي. که چېرته ناکام شي، نو د جګړې د لا زیات ګرمېدو او مرګ ژوبلې لامل به شي. نو څه کولای شو چې د شمالي ایرلینډ د لومړني اوربند بریا څرګنده کړو؟ یو ښه توضیح کېدای شي چې د انګلیس او IRA فوځیانو تر منځ یو بنُبست ته رسېدل وي، چېرته چې دواړه جنګي قواوې پر دې پوه شوې چې په یو سخت حالت کې قرار لري او د مذاکراتو په واسطه یو توافق ته رسېدل به د دوی په خیر وي. له یوه طرفه یاغیان پر دې پوه شول چې دوی نشي کولای خپلو موخو ته له نظامي او سیاسي لارو ورسیږي او له بل طرفه دولت هم پر دې باور وو چې IRA هم یو نه ماتیدونکی خنډ او ستونزه ده چې نه به مات شي او نه به هم دغه جګړه کې بریا تر لاسه کړي، نو ځکه دواړو خواوو یوه متقابل بنُبست ته ورسیدې کوم چې له مذاکراتو مخکې د اوربند لپاره یې شرایط برابر کړل.

یو بل ممکن خطر چې وروسته له داسې یو اوربند څخه کوم چې مخکې له یوه جوړجاړي څخه پر سیاسي موضوعاتو باندې منځ ته راځي، دا دی چې کېدای شي دغه ډول اوربند به په افغانستان کې جګړه نوره هم سخته کړي، د زیات وخت لپاره به دوام پیدا کړي، هېڅ یو اړخ به ګټونکی یا بایلونکی نه وي او د مذاکراتو د حل او فصل لپاره به هېڅ کوم حقیقي چانس نه وي. قبرس هېواد د دغه شان قضیې یو ښه تاریخي مثال دی. په ۱۹۷۴ کال کې د ترکیې او قبرس یونان تر منځ اوربند، چې د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب رامنځ ته شوی و، جګړه ودروله. سره له دې چې د جګړې ښکېلو خواوو د دغه اوربند احترام وکړ، خو وروسته مذاکراتو کې په جګړه کې ښکېل اړخونه پر دې راضي نه شول او ویې نشو کولای چې د اختلافاتو لپاره یوه متقابل حل ته سره ورسیږي. د هغې بر عکس، اوربند بیا هغه حالت وزیراوه چېرته چې د ګروپونو انګیزې د شخړو د حل او فصل کولو لپاره له منځه ولاړې او همغه پخوانی حالت یې وساته. دغه لیست کې کېدلای شي چې نور هغه موارد هم اضافه شي چېرته چې جګړې سختې او منجمدې شوې وي. لکه د اذربایجان او ارمانیا تر منځ د قره باغ موضوع، ابخازیا، ترانس-دنیستر په مولداوا کې، جنوبي اوستیا په ګرجستان کې او کشمیر د هند او پاکستان تر منځ، ټول هغه هېوادونه دي کوم چې له قبرس سره له ورته سرنوشت سره مخ شول.

**دوام لري...**

# د جو بایډن اداره په منځني ختیځ کې له کومو ستونزو سره مخ ده؟

بي‌بي‌سي پښتو

امریکا ته د ورپېښو ننګونو ستره برخه د منځني ختیځ په ستونزو پورې تړلې ده. د جو بایډن اداره تر ډېره له هغو خلکو جوړه ده چې د پخواني ولسمشر بارک اوباما د ادارې غړي وو. دغه کسان به اوس په یوه نوې اداره کې پر هغو مسئلو کار کوي چې پخوا هم ورسره مخامخ وو. د دوی تر ټولو ستر کار به د هغو پالیسیو رغول او پر مخ بوول وي، چې همدوی جوړې کړې وې، خو د تېرو څلورو کلونو (موږ د قانون ساتنه کوو) له کبله له پېچلتیا سره مخامخ شوې دي. له دوی ځینو کسانو ته له حاکم وضعیت سره سره د پرمختګ لارې او فرصت ښکاري.

د ایران او سعودي عربستان تر منځ په دښمنۍ د یوه کتاب لیکوال او د نړیوالې سولې لپاره د کارنیګي موسیسې غړې کیم ګهیتاس وایي، دغه کسان د منځني ختیځ په تړاو د بارک اوباما د ادارې پر تېروتنو ډېر ښه پوه دي.

نومورې زیاتوي چې دغه کسان ښایي اوس موضوعات بلې خوا ته یوسي؛ ځکه له پخوانیو تېروتنو یې یو څه زده کړي او اوس د سیمې حالات هم تر پخوا ډېر زیات پېچلي او ترینګلي دي.

دې کې شک نشته چې د امریکا د نوې ادارې د بهرنۍ پالیسۍ یوه تر ټولو مهمه برخه به د ایران اړوند وي. د امریکا د پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ لخوا په ۲۰۱۵ کال کې د تهران او د نړۍ د څواکمنو هېوادونو تر منځ له لاسلیک شوې اټومي هوکړې د وتلو تر یو اړخیز اعلان وروسته دا هوکړه په ډېر نازک تار تړلې ده.

یمن کې خونړۍ جګړه روانه ده او د بارک اوباما ادارې پیل کې له دې کبله د دې جګړې په تړاو د سعودي عربستان ملاتړ وکړ، چې له ایران سره د اټومي هوکړې له اړخه د ریاض غوسه سړه کړي.

خو ډونالډ ټرمپ د ولسمشر په توګه لومړی بهرنی سفر د ۲۰۱۷ کال په مې میاشت کې سعودي عربستان ته وکړ او له دغه هېواد سره یې د ۱۱۰ میلیاردو ډالرو په ارزښت دفاعي برخه کې د امریکا د تاریخ تر ټولو ستر تړون وکړ.

د ښاغلي ټرمپ د ادارې لخوا تر دې وروسته پر ایران د «حد اکثر فشار» د دوام پالیسۍ له مخې له سعودي عربستان سره اړیکې او ملګرتیا لا پاخه شول.

دې پالیسۍ د خلیج د ځینو عربي هېوادونو لخوا له اسراییلو سره اړیکو ته هم لار هواره کړه.

د سیمې د سیاست څارونکې «نیوز انلاین» مجلې مدیر حسن حسن وایي، د اوباما اداره کې د شاملو څېړونکو په بیا ځلي فعالېدو سره د ډیپلوماسۍ په برخه کې کار ته جدي اړتیا ده.

هغه زیاته کړې: «عرب دولتونو فکر کاوه چې دوی به د امریکا د لیوالتیا د نشتوالي له کبله د سیمې سیاسي نقشه پخپله بدله کړي؛ خو له لیبیا، یمن، ایران او ان کوچني ګاونډي قطر سره له تعاملاتو ورته د خپلو وړتیاوو محدودیت جوت شو. د نوې ادارې لخوا له پخوانیو دودیزو متحدانو سره د اړیکو د ښه کېدو خبرې کېږي.»

د بایډن د ادارې لخوا بهرنیو چارو وزارت ته نومول شوي انټوني بلېنکن سنا ته د خپلې نوماندۍ او پروګرامونو په اړه د څلور ساعته خبرو یوه برخه کې وویل: «دا خورا اړینه ده چې د اسراییلو او خلیج هېوادونو په ګډون، له خپلو ملګرو او متحدانو سره اړیکې د الوتلو خوا ته یوسو، نه پر ځمکه د پرېوتلو خوا ته.»

بلېنکن چې یوه موده د اوباما او بایډن سلاکار پاتې شوی، ټینګار لري چې ایران د یوه نوي تړون له مخې په سیمه کې «د بې ثباتۍ د پیدا کولو له پالیسیو او د بالېستیک توغندیو د جوړولو له پروګرام راګرځول کېدای شي.»

دا دوه داسې مسایل دي چې اروپایي هېوادونه هم ترې اندېښنې لري.

د ۲۰۱۵ کال اټومي هوکړه د نړیوالې ډیپلوماسۍ تاریخ کې یوه ستره بریا بلل کېږي او ښایي د جو بایډن اداره یې په بشپړ ډول ردولو ته مخه نه کړي.

د اروپایي ټولنې د بهرنۍ پالیسۍ د منځنۍ اسیا او شمالي افریقا د پروګرام مرستیاله مدیره ایلي جیرنمایا وایي: «که د بایډن ادارې لخوا د بهرنۍ پالیسۍ، د اټومي وسلو د کمولو او خزانې کلیدي څوکیو نوماندیو ته نظر وکړو، نو درته مالومه به شي چې په هغوی کې ډېر داسې کسان دي چې په اټومي مذاکراتو او له ایران سره پر هوکړې چار او غور کې ښکېلې پاتې شوې دي.»

هغې زیاته کړې: «د بایډن او ایراني مشرانو تر منځ یو شریک ټکی دا دی چې دواړه خواوې پر دغه تړون بشپړ عمل غواړي او اړتیا ده چې دوی ژر تر ژره دې برخه کې یوه کرښلاره جوړه کړي. په دې برخه کې د یوه ځانګړي استازي په ګومارل کېدو هم غور روان دی.»

له کله چې واشنګټن په یو اړخیز ډول له اټومي هوکړې وتلی، ایران کرار کرار د خپل اټومي پروګرام د محدود ساتلو له ژمنو شاته کېږي.

ایران په دې لړ کې تازه تر ۲۰ سلنې د یورانیمو د بډاینې د لوړولو اعلان کړی، خو دا چاره یې له امریکا او اروپایي هېوادونو سره د ترینګلتیا د ډېرېدو لامل شوې ده.

ایراني مشرانو څو ځله ویلي، که امریکا بېرته دغه تړون ته پر ژمنتیا عمل پیل کړي، نو دوی به هم د هوکړې ټولو شرایطو ته ژمن پاتې شي.

خو د تېرو څلورو کلونو لوړو ژورو شکونه او درزونه پراخ کړي او اوس ایران کې له لوېدیځ سره د معاملو مخالفت پیاوړی شوی دی.

د امریکا نوې اداره به هم په دې لار د ګام اخیستلو لپاره په کور دننه څواب ویلو ته اړه وي، ځکه د امریکا کانګرېس چې د بهرنۍ پالیسۍ ډېر باتجربه لوبغاړي پکې راټول شوي، لا وړاندې داسې ښودلې چې بهرنۍ پالیسۍ کې د ډېرې ښکېلتیا هوډ لري.

د دې مطلب دا دی چې امریکا به له ایران سره د هوکړې د هرې برخې، د یمن جګړه کې له سعودي عربستان سره د ملاتړ پای ته رسولو، د اسراییلو او عربو تر منځ د اړیکو، سعودي عربستان کې د بشري حقونو وضعیت او د فعالانو د بندي کېدو او دغه راز د سعودي خبریال جمال خاشقجي د وژلو په ګډون، د منځني ختیځ د هر څه په تړاو ویلو ته یو څه ولري.

کله چې د جو بایډن لخوا د استخباراتو د ملي ادارې مشرۍ ته له نومول شوې ایورېل هاېنز څخه سنا ته د پروګرامونو د وړاندې کولو غونډه کې پوښتنه وشوه چې ایا دا به د مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ د دورې ناقانونۍ پای ته ورسوي او له کانګرېس سره به په ۲۰۱۸ کال استانبول کې د سعودي عربستان په کونسلګرۍ کې د جمال خاشقجي د وژنې په تړاو پټ رپوټ شریک کړي؛ نوموړې ځواب ورکړ: «سناتورانو هو! بالکل، موږ به پر قانون عمل وکړو.»

د پټو سرچینو په حواله، د امریکا د مرکزي استخباراتو ادارې (سي ای اې) دا په بشپړ باور ویلي چې د دې وژنې حکم د سعودي عربستان ولیعهد محمد بن سلمان کړی دی، خو محمد بن سلمان دا ادعا رد کړې ده.

د کرکیچ نړیوالې ډلې څېړونکی پیټر سالسبري وایي، که امریکا امن غواړي، نو اړتیا ده چې ډیپلوماسۍ کې ډېره ښکېله پاتې شي. خو ډیپلوماسي په ځانګړې توګه له دې کبله له ستونزو سره هم مخامخېدای شي چې د بایډن ادارې بشري حقوق په خپلو لومړیتوبونو کې شامل کړي دي.

دا لومړیتوب خبرې هر ځای ستونزمنولی شي، که هغه ریاض سره وي، که تهران، قاهرې او یا بل چا سره. د ټرمپ ادارې د «ابراهیم هوکړو» یا (ابراهم اکورډز) هم چې له مخې یې څو عرب دولتونو له اسراییلو سره عادي ډیپلوماتیکې اړیکې جوړې کړې، تعریفېږي.

د بایډن ادارې د بهرنیو چارو وزارت نوماند بلېنکن ویلي چې دوی به دغو تړونونو کې ځینې شوې ژمنې بیا له پامه تېرې کړي.

په دې کې پر متحده عربي اماراتو د پرمختللو جنګي الوتکو او وسلو له پلور رانیولې د مراکش د لوېدیځې بېدیا پر لانجمنه سیمه د کورواکۍ تر منلو پورې بېلابېلې ژمنې شاملې دي.

د کیم ګهیتاس په وینا: «د دې هر څه تر سره کول به ستونزمن وي؛ خو دا امریکا ته یو فرصت دی چې نړۍ کې د خپل نقش په اړه فکر وکړي او د منځني ختیځ په اړه هم نوی فکر رامخ ته کړي.»

# پر ملکي تلفاتو اندېښنې؛

## روانه خطرناکه جګړه په بې رحمۍ د ملکي وګړو ژوند اخلي



په هېواد کې د ملکي وګړو مرګ ژوبلې جدي اندېښنې پارولې دي. د راپورونو له مخې، په هېواد کې د بشري حقونو او ملکي وګړو د خوندیتوب ډلو په تازه څرګندونو کې د جګړو له ښکېلو لورو غوښتي چې د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره جدي اقدام وکړي. دوی همدا راز په هېواد کې د جګړو اوسنۍ کچه هم د جدي اندېښنې وړ بللې او په خبره یې، ښکېلو لورو د سولې تر خبرو وروسته نه یوازې دا چې جګړې کمې کړې نه دي، بلکې تاوتریخوالی یې ډېر کړی او پر یو بل یې بریدونو ته زور ورکړی دی.

په دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې له لاسلیک یوه تمه دا وه، چې ورسره جوخت به بین‌الافغاني خبرې پیل شي او په دې سره به په هېواد کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله کمه شي. اوس سره له دې چې د بین‌الافغاني خبرو له پیل هم څو میاشتې اوړي، خو په کور د ننه نه یوازې دا چې جګړه نه ده کمه شوې، بلکې لا ډېره شوې او دواړو خواوو پر یو بل سختو بریدونو ته ادامه ورکړې ده. له دې سره جوخت په هېواد کې د بشري حقونو او ملکي وګړو د خوندیتوب د ډلو غبرګونونه هم پارېدلي دي. دوی په هېواد کې روان تاوتریخوالی غندلی او د ملکي وګړو تلفات د جدي اندېښنې وړ بولي.

د همدې څرګندونو په دوام په هرات کې د ملکي وګړو د خوندیتوب یوې ډلې ویلي، چې د هرات په ګډون د هېواد په ټولو ولایتونو په تېره په ولسوالیو کې د ملکي وګړو تلفات د جدي اندېښنې وړ دي. د ملکي وګړو د خوندیتوب دغه اجرایي ډله وایي چې د سولې تر هوکړې وروسته نه یوازې دا چې جګړې کمې شوې نه دي، بلکې ډېرې شوې چې ورسره جوخت ملکي تلفات هم لوړ شوي او دا مسئله د جدي اندېښنې وړ ده. د دې ډلې غړی ملنګ برهاني وایي، طالبان او حکومت دواړه جنګي تخلفات ترسره کوي او ملکي وګړي د سپر په توګه استعمالوي. د ده په خبره، په دې وروستیو کې د دواړو لورو ترمنځ مخامخ نښتې ډېرې شوې چې تر ټولو ډېر تلفات پکې ملکي وګړو ته اوړي. د برهاني په خبره، په دې نښتو کې نه یوازې دا چې ملکي وګړو ته ځاني تلفات اوړي، بلکې دوی ته درانه مالي تلفات هم اوړي. هغه زیاتوي: «په دې موده کې جګړې شدیدې شوې دي. خلکو ته تر ټولو ډېر زیانونه اوښتي دي. کورونه او د عامو ګړو د هستوګنې سیمې د جګړې په مورچلونو بدلې شوې دي، په تېره په ولسوالیو کې جګړې له غرونو او دښتو کورونو او کلیو ته راغلې دي».

د دې ډلې یو بل غړی سید اشرف سادات ادعا کوي، چې طالبان او حکومتي ځواکونه د عامو وګړو سیمې او کورونه د ځانونو د ساتلو لپاره د سپر په توګه کاروي. هغه وایي، په دې وروستیو کې چې جګړې شدیدې شوې، نو د ملکیانو مالي او ځاني تلفات هم ځکه لوړ شوي، چې د وسله والو له لوري یې د هستوګنې سیمې او کورونه د سپر په توګه کارول کېږي. د ده په خبره: «اوس هم جګړه په تر ټولو بې رحمه بڼه په افغانستان کې روانه ده. په ډېره خطرناکه توګه ملکي افغانان د جګړو له امله قرباني کېږي. د دولت مخالفین له خلکو د ځان د ساتنې لپاره استفاده کوي. د افغانستان خلک نور د دې قربانۍ توان نه لري او ژوند د مرګ تر ژامه لاندې تېروي».

تر دې وړاندې ګڼو نړیوالو او د بشري حقونو په برخه کې فعالو بنسټونو هم په هېواد کې د جګړو پر اوج او ملکي تلفاتو جدي اندېښنه ښودلې وه. دوی له ښکېلو لورو غوښتي وو چې ژر تر ژره مذاکرات یوې پایلې ته ورسوي او په کور د ننه دې جګړې ختمې کړي.

طالبان او افغان حکومت بیا یو بل د ملکي تلفاتو مسوول بولي. افغان حکومت وایي چې طالبانو تاوتریخوالی نه دی کم کړی او د دوی د بریدونو له امله ملکي وګړي قرباني کېږي، خو طالبان بیا وایي چې حکومت د ملکي تلفاتو مسوول دی. بلخوا د سولې خبرې په ځنډنۍ توګه مخ ته روانې دي چې دلته یې د جګړې پر کمولو اغېز نه دی کړی.

# د روسیې لاریونونو ته غبرګون؛

## امریکا: روسیه دې نیول شوي زرګونه لاریونوال ژر تر ژره خوشې کړي

وروسته له هغې چې په روسیه کې د لاریونونو پرمهال د الکسي ناوالني د زرګونو پلویانو د نیولو راپورونه خپاره شول، د امریکا متحده ایالتونو د مسکو دغه اقدام غندلی او ژر تر ژره یې د دوی د خوشې کولو غوښتنه کړې ده.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارتویاند نید پرایس، ویلي چې د اعتراض کوونکو او خبریالانو پر وړاندې له تشدد ډکو لارو چارو کارول او د سوله‌ییزو غونډو او د بیان د ازادۍ د حق مخه نیول، پر مدني ټولنې او بنسټیزو ازادیو باندې د مسکو له خوا د لا زیاتو محدودیتونو د لګولو ښکارندویي کوي.

د اعتراض کوونکو د نیولو د څار د یوې خپلواکې ډلې د راپور له مخې، د روسیې امنیتي ځواکونو د ورمې ورځې تر سهاره د الکسي ناوالني د مېرمنې په ګډون، ۳۲زره کسان نیولي دي. د راپورونو له مخې، د نیول شویو کسانو په منځ کې په لسګونو خبریالان هم شامل دي. امریکا دغه راز له روسي چارواکو غوښتي چې ژر تر ژره دې نیول شوي کسان چې له خپلو اساسي حقونو نه یې ګټه اخیستې، له قید او شرط پرته خوشې کړي.

د یادونې ده چې په ټوله روسیه کې اعتراض کوونکې لارو، کوڅو او سړکونو ته را وتلي او د روسیې د حکومت د مخالف سیاستوال الکسي ناوالني خوشې کېدل غواړي. په ځینو ځایونو کې د پولیسو او اعتراض کوونکو ترمنځ د نښتو خبر هم ورکړل شوی دی. د روسیې دولتي رسنۍ د ۳۹پولیسو د ټپي کېدو خبر هم ورکړی دی. په ورته مهال اعتراض کوونکو ویلي، چې له پوتین نه ستړي شوي او غواړي هېواد یې بدلون وکړي. د روسیې د حکومت او ویلادیمیر پوتین سر سخت مخالف ناوالني د جنورۍ په ۱۷مه کله چې له جرمني څخه مسکو ته ستون شو، د پولیسو له خوا ونیول شو. هغه له مسمومېدو وروسته د پنځو میاشتو لپاره په جرمني کې تر درملنې لاندې و.


ناوالني وایي، چې د هغه د مسمومېدو مسوول کرېملین دی. په ورته مهال، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له روسیې غوښتي چې د ناوالني د مسمومیت په هکله په پلټنو کې له نړیوالې ټولنې سره همکاري وکړي او دننه په خپل هېواد کې د کېمیاوي وسلو د کارولو په تړاو هم توضیحات ورکړي. بلخوا د کېمیاوي وسلو د مخنیوي نړیوال سازمان هم تایید کړې، چې ناوالني ته د اعصابو د ګډوډولو لپاره د نویچوک په نامه فوق العاده زهري مواد ورکړل شوي دي. د یاد سازمان غړو په ۲۰۱۹ز کال کې له دې زهري مادې څخه د استفادې په منع کولو توافق کړی دی.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
### کابوکي




د قاضي او اداوني خوږه یارانه جوړه شوې وه. اډواني ده ته د اگرې سرمشریزې وړاندیز وکړ، بیا یې قاضي پوښتلی و چې خوښ دی که نه؟ قاضي پرې خوښ و.
وروسته مې قاضي وپوښت چې په اگره کې دې د ملگرې پښې ولې وښویېدې؟ ده راته وویل چې په اگره کې اډواني بدل شوی و، د ډېلي له اډواني سره یې توپیر درلود. د اگرې وضعیت پر مشرف ښه نه و لگېدلی.
د اگرې د سرمشریزې یوه تشه دا وه چې پاکستانیانو په تېره بیا قاضي ته ویل شوي نه وو چې په اگره کې دې پر اډواني خیال ساتي. همدغه وجه ده چې یو تن پر ځان غره کېږي او داسې انگېري چې گواکې دی هر څه اداره کولای شي. د اگرې سرمشریزې ټول گلان واجپای په خپله پگړۍ کې وټومبل، پر اډواني دا ښه و نه لگېده او سرمشریزه ناکامه شوه.
سېنها: له پاکستان سره تر سولې وړاندې، ان په دولت کې لا باید اول غوړونه سره وجنگوي.
دولت: دا نو عادي گام نه و.یو استثنایي گام و، چا یې هم تمه نه درلوده. دغه سرمشریزه تر کارگېل وروسته وشوه، په کودتا پسې چې مشرف ځان ولسمشر اعلان کړ، دوی ورته بلنلیک ور ولېږه. ځکه خو د سولې لپاره لومړی باید مشرانو غوړونه سره جنگولي وای.
سېنها: تل همداسې وي. تر شا یې باید کارگېل یا ممبیي وي.
دولت: له ممبیي وروسته هېڅ هم و نه شول.
سېنها: جنرال صېب، له هند سره د تعامل دغسې تمرینات دې کله هم لیدلي دي؟
دوراني: خپله تر سرمشریزې دوه درې خبرې ډېرې مهمې دي.یوه خبره دا ده چې که څوک له بهرنیو چارو وزیر سره خوږه یارانه پالي، یا یې له مرستیال لومړي وزیر سره پالي؛ نو خپل رئیس یې خوابدی کېږي.
دولت: پر خوابدي کېدلو یې خبر نه یم، خو هغه له اډواني او جسوانت سېنگ سره اړیکې نه درلودې. د «۸۱٤-IC» له یرغمل کېدو وروسته حالت داسې شو چې جسوانت سېنگ، مالیې وزارت ته بدل شو او د ده پر ځای یاشوانت سېنها وټاکل شو. همدا چې یاشوانت وټاکل شو، برجېش مېشرا ما ته وویل چې د کشمیر په تړاو یې سر ور خلاص کړم.
دوراني: زموږ په نظام کې هم دغسې کېږي، خو ډېر کله چې ما باید د چا سر ور خلاص کړی وای، نو هېچا هم خوا نه بدوله. د ISI رئیس، د پوځ د استخباراتو رئیس به یو څه پوهېږي، موږ پرې باور کوو. که مثلاً دی د نجیب الله د استخباراتو له رئیس سره په پټه گوري، نو ده پرېکړه کړې، موږ یې پایلو ته منتظر پاتې کېږو. دا نو پکار ده چې زموږ د نظام یوه ښېگڼه وبولو چې په یو بل ډېر باور کوو. ستاسو بېروکراسي کار امده ده او ویل کېږي چې جدي ده.
سېنها: صېب تاسو همدا وایاست کنه چې په پاکستان کې پوځ عالي دی.
دولت: تاسو غلط پوه شوي یاست. لومړي وزیر له دې سره مشکل نه درلود، بلکې دغلته په کار کولو خوشاله و. برجېش مېشرا راته کله هم دا ویلي نه دي چې له اډواني سره مه گوره. بلکې په ۲۰۰۲ کال کې ډاکتر منموهن سېنگ د شورا له ټاکنو مخکې راته زنگ وواهه، ور ویې غوښتم او د کشمیر د مسئلې په تړاو یې زما نظر وغوښت. ورته و مې ویل چې په سر سترگو، زه به مې خپل رئیس خبر کړم. برجېش مېشرا راته وویل: «هو، هو ورشه، منموهن سېنگ له ما سره خبرې کړې دي، مهرباني ورشه او معلومات ورکړه.» زه ورغلم، له ډاکتر منموهن سېنگ سره مې اوږدې خبرې وکړې، په اخر کې مې ورته وویل چې صېبه یو خوږ زیری به دربانديې وکړم. تاسو په جمو کې ډېر ښه روان یاست. دی پورته غوځار شو، ویل که دې اجازه وي زه به لاړ شم او «مېرمنې صېبې» ته به دا خبره وکړم.
خو دا په دې خاطر نه وه چې گنې ما له کابینې سره ډېره ناسته پاسته درلوده. زه ازاد وم، زما کمزوري دا وه چې ما ویل چې زما رئیس ته له دې خلکو سره کتل مهم نه ښکاري، نو زه بیا کوم کدو یم.
دوراني: د سېنها ملاحظه را بانديې بده و نه لگېده چې حد اقل پوځي سیسټم خو شکمن نه دی، پارانوید نه دی.
د اډواني خبرو حیران کړم. د ده له خبرو ما دا مطلب واخیست چې مرستیال لومړي وزیر، یوه نوموتي او باتجربه شخص دا هر څه ځکه پرېښودل، سرچپه یې کړل یا یې ملاتړ ځکه نه کاوه چې ده ته پکې ډېر پام نه کېده. د هند-پاکستان اړیکې تل له همدې امله له گواښ سره مخ شوې دي.
مشرف تر سرمشریزې وړاندې له ما سره وکتل، ما ویل څه د ډیپلوماتیکو او نورو تیاریو په تړاو به راته څه ووایي، خو هېڅ یې هم و نه ویل. ما داسې گومان وکړ چې دی بې تیاري ور روان دی، د ده شخصیت بس دغسې و. ده به ښایي گومان کاوه چې ور به شم له هندیانو سره به وگورم او خبرې به ورسره وکړم، لږه موده وروسته به نو بیا هندیان د ده خبره ځمکې ته نه غورځوي. ده له پخوا دغسې خوبونه لیدل. **دوام لري...**

# رولکس

◀ حشمت الله نوري




رولکس کمپنۍ د نړۍ تر ټولو ستره کمپنۍ او مشهور برنډ دی. دغه کمپنۍ په نړۍ کې د ساعت د تولید تر ټولو مشهور او ستر برنډ دی. د رولکس کمپنۍ تاریخچه د هانس ویلسدورف له نامه اخیستو پرته نه شو لوستلی. هغه لومړنی کس و چې د دې کمپنۍ بنسټ یې کېښود. هغه په ۱۹۰۵ کال کې په ۲۴ کلنۍ کې په لندن کې د ساعت جوړولو یو ځانگړی شرکت جوړ کړ. تر ده وړاندې پر لاس د تړل کېدونکو ساعتونو یا لاسي ساعتونو جوړول نه وو دود شوي، هغه هڅه وکړه څو داسې ساعت جوړ کړي چې په لاس وتړل شي. ده دې موخه یوازې دا نه وه چې په لاس تړل کېدونکی ساعت جوړ کړي؛ بلکې هڅه یې کوله چې هغه باید ښایسته وي او د زېور په توگه ورڅخه کار واخیستل شي. تر دې دمه پر دغو ساعتونو خلکو باور نه درلود، خو هانس خپله هڅه ثابته کړه او خلکو ته یې وښووده چې هر څه کولی شي. هغه هڅه وکړه څو خلک باوري کړي چې په لاس تړل کېدونکي ساعتونه هم د نورو په شان کار کوي او گټور دي. نو د همدې لپاره یې د یوه سویسي شرکت له لارې د دغو ساعتونو جوړول پیل کړل.
هانس غوښتل د خپل دغه تولید کېدونکي ساعت لپاره نوم انتخاب کړي، ده هڅه کوله څو داسې یو نوم انتخاب کړي چې هم لنډ وي او هم یې خلکو ته یادول اسانه وي او له بلې خوا خوله په خوله شي او تر ټولو ورسېږي. ده یوه بله موخه هم لرله، هغه دا چې دا نوم باید پر ساعت ښکلی ښکاره شي. هغه هڅه وکړه چې څو توري ځنگ تر ځنگ کېږدي څو یو ښکلی نوم ترې جوړ شي. هغه په دې توگه سل نومونه جوړ کړل، خو یو یې هم خوښ نه شو، تر دې چې یو سهار په لندن ښار کې روان و او د رولکس نوم یې واورېد، همدې یې په غوږونو کې موسیقي تولید کړه، خوند یې ورکړ او د دې ساعت نوم رولکس شو.
رولکس د نړۍ تر ټولو ښه ساعتونه دي. رولکس ساعتونه په سویسي کمپنۍ کې تولیدېږي. تاسې به اورېدلي وي چې سویس د ساعتونو په تولید کې نړیوال نوم لري، نو رولکس هم په همدې ښار کې فعالیت او تولیدات لري. د رولکس کمپنۍ شعار دی «په لوړ عمل»، په دې مانا چې تر خپلې وروستۍ هڅې به خپل کار په ښه توگه تر سره کوي. د رولکس د کیفیت یو لامل دا دی چې له ځانگړې فلز کار اخیلي. دوی له ال ۹۰۴ مډل سټیل گټه اخلي. د نړۍ بله هیڅ کمپنۍ له دغه فلزه په خپلو ساعتونو کې کار نه اخلي، دوی ټول ال ۳۱٦ سټیل کاروي، ښایي پوښتنه درته پیدا شي چې ولې نو نورې کمپنۍ له دې موادو ساعتونه نه تولیدوي؟ ځواب یې دا دی چې دا فلز خورا گران بیه دی. بل دلیل یې دا دی چې له دې موادو د ساعت جوړول ځانگړې ماشینونه غواړي چې هغه بیا تر دې فلز گرانبیه دي او له رولکس پرته له بل چا سره دغه ماشینونه نشته، ځکه همدې کمپنۍ پخپله ځان ته تولید کړي دي او یوازې دوی یې کاروي.
فوربز مجلې په ۲۰۱٦ کال کې رولکس شرکت د نړۍ ٦۴م غوره شرکت وباله. دوی ورسره لیکلي وو چې د نړۍ په ۱۰۰ غوره قدرتمنو او پیاوړو برنډونو کې ٦۴م ځای د رولکس دی. ښایي تاسې ته هم په زړه پورې وي چې د ساعت په نړۍ کې نو بیا دا برنډ ډېر پیاوړی دی. هره ورځ د ۲۰۰۰ په شاوخوا کې ساعتونه تولیدوي. کارکوونکي یې دومره نه دي، یوازې ۲۸۰۰ کسان په دغه شرکت کې کار کوي، خو ټول پر کار پوه او پیاوړي کسان دي. کلنۍ گټه یې تر ۵ میلیاردو ډالرو رسېږي.
رولکس کمپنۍ د خپل کار په موخه کې ډېرې بریاوې خپلې کړې دي. دوی د نړۍ لومړنی د اوبو ضد ساعت په ۱۹۲٦ کال کې جوړ کړی دی. همداسې دوی د لومړي ځل لپاره په ۱۹۴۵ کال کې د تاریخ لرونکی اتومات ساعت جوړ کړ. پوهېږئ، دوی لومړنی داسې ساعت جوړ کړ چې ۱۰۰ متره یې تر اوبو لاندې کار کاوه، دا کار یې په ۱۹۵۳ کال کې وکړ او د دغه ساعت نوم یې هم پېرپتوال و.
رولکس کمپنۍ ورځ تر بلې وړاندې روانه وه. دوی د خپل کار د کیفیت لپاره د هانس په مشرۍ پوره پوره هڅه کوله. په هغه ورځ چې د رولکس د اوبو ضد ساعت ازمویل کېده، دا ورځ دوی ته ډېره سخته وه؛ ځکه یو وخت چا داسې فکر نه و کړی چې د انسان په لاس به ساعت وي، دا فکر خو یې هېڅ نه وکړی چې دا ساعت به تر اوبو لاندې هم کار کوي. ۱۹۲٦ کال و، د وخت مشهور لامبوزن مرسدس گلانیتزن رولکس ساعت په لاس کړ او ویې ویل چې پوره لس ساعته باید دغه ساعت په اوبو کې خپل کار وکړی شي. هغه اوبو ته کښته شو او د مانش په کانال کې یې په لامبو پیل وکړ. لس ساعته وروسته رولکس کمپنۍ د خپلې سترې بریا خوشالي ونمانځله، ساعت بریالی راووت او رولکس کمپنۍ د یوه ستر شهرت خپلولو ته ځان تیار کړ. هما ورځ وه چې رولکس د خلکو خولو ته ولوېد، په نړۍ کې یې خپل ځای پیدا کړ. په سبا یې د رولکس نوم د نړۍ د ورځپاڼو په سر کې و، د میاشتو لپاره د ډېرې ورځپاڼو او نشریو سرخط د رولکس کمپنۍ بې ساري بریا وه.
رولکس کمپنۍ د خپلو ساعتونو د تولید لپاره هڅه کوله، دا کمپنۍ همدلته ونه درېده، دوی هڅه کوله چې تر دې د ډېرې وړتیا لرونکي ساعتونه جوړ کړي. د رولکس کمپنۍ ساعتونه بېل ډولونه لري، خو په ټولیزه توگه په دریو برخو وېشل کېږي. پروفشنل، آیسټر پېرپېټل او سیلیني یې هغه مهم دي.
ایر کینگ د رولکس تر ټولو ساده او ارزانه ساعت دی. دغه ساعت د کمپنۍ له جوړېدو سره یو ځای په لومړنیو کلونو کې جوړ شو او د دې ساعت د جوړېدو موخه دا وه چې باید په فضا او هوا کې هم کار ورڅخه واخیستل شي. ایر کینگ په ۱۹۳۰ کال کې د انگلیس د حرفه‌یي پیلوټانو لخوا وکارول شو. دا ساعت ساده دی، خو دا چې بیه یې یو څه ټیټه ده، نو ډېر خلک کولی شي هغه واخلي.
رولکس ډېټ یې بل ساعت دی، یو څه اېیر کینگ ته ورته دی، خو توپیر یې دا دی چې نېټه هم ښیي. په ۱۹۵۰ کال کې جوړ شوی دی او کولی شي د اوبو پر وړاندې تر ډېره مقاومت وکړي. همدا ساعت دی چې پوره ۱۰۰ متره تر اوبو لاندې کار کوي.
رولکس اکسپلور، لکه له نامه یې چې ښکاري د سیلانیانو لپاره جوړ شوی دی. دا ساعت د هغو کسانو لپاره جوړ شوی چې له سیل او سفر سره مینه لري، ځکه دا سات له ۲۰ تر ۴۰ درجو حرارت په مقابل کې ښه کار کولی شي. کله چې د لومړي ځل لپاره د ایورست لوړه څوکه فتح کېدله، نو د دې څوکې فاتح ایډمونډ هیلاري رولکس اکسپلورر ساعت په لاس درلود. دغه ساعت په ۱۹۵۴ کال کې جوړ شوی دی. د دغه ساعت بل موډل بیا رولکس اکسپلورر ۲ نومېږي، چې په ځانگړې توگه هغو کسانو ته طراحي شوی، چې په غارونو کې څېړنې او فعالیت کوي.
رولکس سوبمارینر بیا د دغه کمپنۍ بل ساعت و، تر ډېره په اوبتلونو کې کارېدو، تر اوبو لاندې یې په پوره قوت کار کاوه، دا موډل کولی شي ۳۰۰ متره تر اوبو لاندې کار وکړي. جیمز باند په خپلو ډېرو فلمونو کې له دغه ساعت استفاده کړې ده.
رولکس په لومړنیو کلونو کې ډېره هڅه کوله چې خپل ساعتونه په بېلو برخو کې و ازمویي. دوی کوښښ وکړ چې د اویسټر ساعت وړتیاوې په بېلو برخو کې وازمویي، له همدې امله یې دا ساعت په سپورت، هوانوردۍ، موټر چلونې او کشفي سفرونو کې و ازمویه. دوی د ساعتونو د ارزونې او ازمېښت لپاره یو منظم ازمېښت ځای جوړ کړ. دوی په دغه ځای کې بې شمېره څېړنې او ازمېښتونه تر سره کړل. دا لړۍ تر نن پورې روانه ده، دوی هر ساعت بېل بېل د اوږدې مودې لپاره په دغه ازمېښت ځای کې ازمويي او وروسته یې مشتري ته سپاري.
رولکس په ۱۹۳۰ کال کې د خپلو ازمېښتونو په لړ کې وغوښتل څو په لوړ سرعت د خپل ساعت کاري وړتیا وگوري. نو له همدې امله یې د هغه وخت تر ټولو پیاوړي موټر چلوونکي سېر مالکوم کمپبل ته خپل ساعت ورکړ، څو په تر ټولو لوړ سرعت کې هغه و ازمويي او وگوري چې کوم بدلون پکې راځي او که نه. هغه د ۱۹۳۵ کال د سپټمبر په ۴مه د بلوبرډ شترینگ ته کېناست، په دې وخت کې نوموړی د سرعت د پادشاه په نامه مشهور و، هغه په نړۍ کې ۹ ځله د لوړ سرعت ریکارډ خپل کړی دی. هغه د دغه ساعت ازموینه وکړه او تر اوږده او چټک سرعت وروسته هم په ساعت کې کوم تغیر را نه غی. نو له خلکو دا وېره هم لرې شوه چې که مو ساعت په لاس وي او موټر کې سپاره وو، ښایي د سرعت په تغییر د هغه په ماشین کې تغییر راشي او وخت ناسم وښیي. وروسته کمپبل رولکس ته یو لیک ولېږه او په هغه کې یې مننه ترې وکړه، لیکلي یې وو بې جوړې ساعت دی.
رولکس اوس هم د نړۍ په کچه د ساعت جوړلو پیاوړې کمپنۍ ده. د اروپایي ټولنې د هستوي څېړنو د مرکز سیرن د معلوماتو له مخې، د رولکس ساعتونه کولی شي د ۱۰۰۰ گاوس په قوت په مقناطیسي محیط کې عادي کار وکړي. دغه مرکز تر ډېره په ذره وي او مقناطیسي مسایلو کې څېړنه کوي. دوی له ۱۹۵۰ کال راهیسي په بېلو مرحلو کې د رولکس ساعتونه له بېلو اړخونو ارزولي دي، خو تر دې دمه بریالي راوتلي دي.
د وخت چټک موټر چلوونکی کمپبل د رولکس په اړه وایي: «د خوبونو د رښتیا کولو لپاره باید مبارزه وکړئ، باور ولرئ چې بریا ستاسې ده، هره ورځ مبارزه وکړئ، یوازې مبارزه او هڅه مهمه نه ده، د خپلې بریا لپاره اړین وسایل هم برابر کړئ. زه د تینیس په نړۍ کې فعال یم، اتل یم خو ځان ته تر ټولو مهم اصل وخت ښیم، له همدې امله ما په بېلو وختونو کې له رولکس گټه اخیستې ده، رولکس زما خوب دی، د تینس په نړۍ کې مې هغه ملگری دی چې ښکلا او غرور یې را ښښلی دی.
رولکس جی ام ټي ماسټر مې نږدې ۵۵ کاله مخکې اخیستی دی، هغه وخت زه په اردو کې وم، زما ډېر خوښ و، خو تر نن پورې دا دی راسره دی، نن مې دغه نندارتون ته راوړی دی، زما د ځوانۍ تر ټولو ستر او مهم ساعت و، زما ډېره هیله وه چې دغه ساعت واخلم، غوښتل مې چې یوه ورځ کور ته ولاړ شم او رولکس ماسټر ماډل مې په لاس وي، خو یوه ورځ مې واخیست، اوس هم دا دی ۵۵ کاله تېرېږي، خو لا هم کار کوي او روان دی. د اخیستو بېل، ضمانت خط او هر څه مې یې ساتلي دي، ځکه ډېر راته مهم و او په ډېره مینه مې اخیستی و. تر نن پورې مې نه پلورلی او نه یې پلورم. په هغه وخت کې مې په ۱۲۵ ډالره اخیستی و، زما معاش هغه وخت په اردو کې ۱۰۰ ډالره و.»

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲ |
| € | ۹۳,۵ |
| Rp. | ٤۷۷ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٤,۲ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# هغه اووه حقیقتونه چې په اړه یې باید پخوا پوهېدای!

ژباړه: احمد فرهاد توتاخېل

ډېری وخت موږ د خپل ربښتیني ځواک، د ځان او پر نفس د باور زیاتولو په اړه غږېږو. که څه هم پر ځان او نفس باور مسئلې یوشان بریښي او دې ته راجع کیږي چې موږ د خپل ځان په اړه څه احساس کوو؛ خو په اصل کې پر ځان او نفس د باور موضوعات په پوره توګه توپیر لري.

خپل نفس ته درناوی په دې مانا چې عموماً موږ د خپل ځان په اړه څه احساس کوو، لکه: موږ له خپل ځان سره څومره مینه کوو او څومره خپل ځان راباندې ګران دی او دا چې خپل ځان ته په کومه سترګه ګورو. د مثبت فکر خاوندان یو او که د منفي فکر؟ پر نفس باور له هغو تجربو، چاپېریال، د کورنۍ له غړو، ښوونځي او ټولنې څخه ښه اخلي، چې موږ پکې لوی شوي یاستو.

پر ځان باور په دې مانا چې کله ځینې کارونه تر سره کوو او له مختلفو حالاتو سره مبارزه کوو، نو خپلو وړتیاوو ته څه ډول نظر کوو.

زموږ ډېری داسې لوی شوي چې یوازې د خپلې کمزورتیا په ټکو او محدودیتونو فکر کوي، خو خپل پیاوړي او غوره ټکي له پامه غورځوي او یا ترې نه وي خبر.

مشهوره وینا ده چې وایي: «موږ کولای شو یوازې هغو شیانو ته بدلون ورکړو، چې ترې خبر یو او هغه شیان چې موږ یې پر اصلیت پوهیږو.»

اوس زه د خپل ځان ښه ساتنه کوم. ما دا زده کړل چې باید له خپل ځان سره په هر حالت کې (پر نیګمړتیاوو او تېروتنو سربېره) مینه وکړم. ما د خپل ځان د پیاوړتیا ټکي او وړتیاوې درک کړې دي. ما دا وغوښتل چې باید ځان په پوره توګه د نوي ځراغ تر رڼا لاندې وګورم، څو مې خپل نفس ته درناوی کړی وي او وشم کولای چې پرمختګ وکړم.

زما په ټاکنو کې خپل نفس ته سالم درناوی او باور لاسته راوړل زما د وجود دنده او له لاسته راوړنو ډک سفر دی او تر دې دمه مې په دې لاره کې له ځواک ډکه پوهه تر لاسه کړې ده.

لاندې هغه ټکي دي، چې زه یې د خپل ځان او ژوند په واقعیت وپوهولم:

**۱ـ له خپل ځان سره مینه کول غرور نه، بلکې یو ښه صفت دی**

که غواړې چې نور خلک درسره مینه وکړي، نو لومړی باید له خپل ځان سره مینه وکړئ، څو د خلکو په نظر د قدر او ارزښت وړ کس ورشی. که ځان ته پام ونه کړی، هغه ده چې د نورو له پام هم غورځېږی او بالاخره مو ژوند یوازې او بې خونده کیږي.

**۲- بشپړوالی په اصل کې یو خیال دی**

زه له خپلو ټولو تېروتنو مننه کوم، ځکه چې همدا تېروتنې په اصل کې زما د هوښیارۍ اصلي وسیلې وې. لکه څنګه چې جان سي مکسویل وایي: «ځینې وخت یې ګټو، خو ځینې وخت یې زده کوو. موږ یې هیڅکله هم نه بایلو.»

زه هڅه نه کوم چې بشپړ واوسم؛ خو تل غواړم چې یو کار په ښه توګه تر سره کړم.

**۳- زه د پېښو قرباني نه یم**

زما تېر وخت زما له راتلونکي وخت سره هېڅ کار هم نه لري او زما زاړه محدودیتونه نن ورځ ما نه تعریفوي، چې زه څوک یم. د خپل ضایع شوي وخت، پیسو او مینې لپاره پر نورو انتقاد کول نامناسب کار دی، ځکه چې زه تل دا غوره ګڼم چې څومره (وخت، پیسې او مینه) ورکړم او کومو خلکو ته یې ورکړم. پرته زما له رضایت څخه، هیڅوک هم نه شي کولای چې ما وروزي او یا مې هم خپه کړي. زه د خپلو کړنو مسوول یم او زما راتلونکی زما د اوسنیو انتخابونو پایله ده. له هغې ورځې چې ما د خپل تېر وخت او نورو خلکو ملامت ګڼلو ته د پای ټکی ایښی، له هماغې ورځې زه ازاده شوی یم.

**۴- ستاسې په اړه د نورو خبرې هیڅ مه اورئ**

زه نه شم کولای چې هر څوک خوشاله کړم، که هرڅومره هم هڅه وکړم. دا چې خلک زما په اړه څه فکر کوي، دا د هغوی هغه مفکورې دي چې د هغوی له ذره بین څخه چاڼ شوې دي. دا ټولې مفکورې یوازې د هغوی دي او له ماسره هیڅ هم نه شي کولای. ما د خلکو خوشالولو ته د پای ټکی کېښود، د دې په پار چې دوی به ما خوښ کړي. زه له خپل ځان سره مینه لرم چې هر رقم یم او له نورو خلکو څخه دا تمه هم نه کوم چې ګوندې دوی به ما خوشاله کړي. زما خوشالي زما مسوولیت دی او له دې اضافي یوازې بخشش دی.

**۵- هغو شیانو ته «نه» ویل چې موږ یې تر سره کول نه غواړو**

که ووایم چې هو کوم یې او په حقیقت کې نه یې شم کولای، نو دا داسې احساس کیږي لکه جبراً چې یو کار په ځان منې. هغه کارونه چې زه تر سره کولای شم، یوازې زه پرې پوهیږم، نه هغه څوک چې غواړي پر ما یې تحمیل کړي. زه تل دا غوره ګڼم چې څنګه خپل ارزښتناک وخت له خلکو سره تېر کړم او له کومو کسانو سره یې باید تېر کړم. زما وخت زما د ژوند په مانا دی او هیڅکله بیرته نه رادرومي.

**٦-ژوند د جګړې یا پهلوانۍ ډګر نه دی**

ما له نورو خلکو سره له سیالي کولو او ځان له هغوی سره له پرتله کولو لاس اخیستی. د سیالۍ او شریکۍ پر ځای یوازې خپل سفر ته ادامه ورکوم او د خلکو د لاسته راوړنو لپاره خوشاله یم. غواړم چې د ډار د فضا پر ځای، د مینې په فضا کې ژوند وکړم او په ډېرښت یې پوره باور لرم. موږ په داسې ملاتړ کوونکې نړۍ کې ژوند کوو، چې هر چا ته د هرڅه زمینه برابره ده. د خدای نړۍ دومره پراخه ده چې موږ ټول پکې له خپلو ټولو سالمو غوښتنو سره ځایېدای شو، نو د سیالۍ اړتیا نشته.

**۷- ربښتیني اوسیدل یوازې د انتخاب مسئله ده**

ما دا غوره کړې چې له هغه چا سره چې اوسم، باید ربښتینی واوسم او پر هغه څه چې باور لرم، ربښتیا دي. د خوشاله اوسیدو حق ما ته د زیږون په وخت کې راکړل شوی دی او ما دا هوډ کړی، چې باید پرته له ښېنې، غوښتنې او پښېمانتیاوو څخه خپل ژوند وکړم. زه هغه څوک یم چې خپل ځان ته یې پخپله ټاکم او غواړم چې ژوند وکړم، نه دا چې یوازې په دې نړۍ کې واوسم.

زه په دې پوه شوی یم چې په ژوند کې چې هغه څه موږ غواړو، په اسانۍ سره یې نه شو تر لاسه کولای. موږ هغه څه لاسته راوړو، چې فکر کوو وړتیا یې لرو. همدا خبره ده، چې پر ځان باور او ځان لیدل هغه غوره توکي دي چې ژوند موږ ته د ډالۍ په توګه راکړي دي.

## طالبان: له امریکا سره شوې هوکړې ته ژمن یو، مقابل لوری دې هم ژمنتیا وښیي

طالبان وایي، له امریکا سره د شوې هوکړې ټولو مادو ته ژمن دي او ټینګار کوي چې له کومې کړې ژمنې نه دي په شا شوي.

طالبانو دا خبره د امریکایي چارواکو د هغو څرګندونو په غبرګون کې کړې، چې ویلي یې دي، له طالبانو سره د ټرمپ د ادارې لاسلیک شوې هوکړه ارزوي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د امریکا کې د ولسمشر جو بایډن په مشرۍ د نوې ادارې دوو لوړپوړو چارواکو د ملي امنیت سلاکار جیک سالیوان او د بهرنیو چارو سرپرست وزیر انتوني بلینکن چې دواړه د نوې ادارې لهخوا تازه ګومارل شوي، له طالبانو سره د دوحې تړون د بیا ارزولو خبره کړې او د افغانستان دولت یې هم هرکلی کړی دی.

دوی ویلي، دا باید و ارزول شي چې طالبان له ترهګرو ډلو سره د اړیکو د پرې کولو، په افغانستان کې د تاوتریخوالي د کمولو او له افغان حکومت او نورو خواوو سره د با مفهومه خبرو د پیل په اړه په خپلو ژمنو ولاړ دي او کنه.

د دوی له دغو څرګندونو وروسته طالبان وایي، د دوحې د تړون له هېڅ یوې ژمنې نهیې سرغړونه نه ده کړې.

د طالبانو د قطر دفتر ویاند محمد نعیم ویلي، د افغانستان د ستونزې د سیاسي جوړجاړې یوازینۍ لار، د ده په خبره، د دوحې د تړون پلي کول دي. هغه زیاتوي: «د هوکړې د پلي کولو لپاره عملي ګام دا دی چې د افغانستان لانجه له سیاسي لارې هواره شي او بهرني ځواکونه د طالبانو د اسلامي امارت او امریکا د هوکړې له مخې، له هېواده ووځي، موږ له خپل اړخه یو ځل بیا وایو چې د هوکړې د هرې مادې عملي کول د ټولو لپاره ښه کار دی، موږ هغو ژمنو ته ولاړ یو چې په هوکړه کې مو کړې دي، له مقابل لوري هم غواړو چې په هوکړه کې کړیو ژمنو باندې ودرېږي.»

د یادونې ده چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د ۲۰۲۰ز کال د فبرورۍ په ۲۹مه، په دوحه کې افغانستان ته د سولې راوستو په نوم تړون لاسلیک شو. له هغه راهیسې لومړی ځل دی چې امریکایي چارواکي د دغه تړون پر منځپانګه شک کوي او د بیا کتنې غوښتنهیې کوي.

امریکایي چارواکي وایي، که په دغه تړون کې د افغانستان د تېرو دوو لسیزو بریاوې خوندي نه شي، بېمانا دی.

په تړون کې د طالبانو اساسي ژمنې دا وې چې تاوتریخوالی به کموي، پر بهرنیو ځواکونو به بریدونه دروي، له القاعده او نورو نړیوالو ترهګرو ډلو سره به اړیکې پرې کوي او د افغانستان له خاورې به د امریکا پر ضد د استفادې اجازه نهورکوي.

طالبان که څه هم دغو خبرو ته ځان ژمن بولي، خو له دې وړاندې افغان چارواکو ادعا کړې، چې طالبانو تاوتریخوالی نهدی کم کړی او له القاعده سره یې هم اړیکې ساتلي، خو طالبانو بیا دا ادعاوې رد کړې دي.

## پوهنې وزارت: له دریو میلیونو زیات ماشومان لا هم له زدهکړو بې برخې دي

پوهنې وزارت وایي، په هېواد کې لا هم دری میلیونه او ۷۰زره ماشومان له زدهکړو بې برخې دي، چې دې چارې دوی اندېښمن کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ (د جنوري ۲۴مه) د ښوونې او روزنې نړیواله ورځ وه. د دغې نړیوالې ورځې له را رسېدو سره سم، د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوترېش له نړیوالو غوښتنه کړې چې د ماشومانو د زده کړو پر وړاندې ستونزې ختمې کړي.

هغه ویلي چې لا هم په ټوله نړۍ کې سلګونه میلیونه ماشومان د بېلابېلو ستونزو له امله له زده کړو بې برخې دي.

ګوترېش ویلي، په روان ۲۰۲۱ کال کې باید دغه حالت بدل شي.

هغه زیاتوي: «ان د کرونا ویروس له خپراوي وړاندې ۲۵۸میلیونه ماشومان او نوي ځوانان له ښوونځیو بهر شوي وو، چې ډېری یې نجونې وې او له نیم زیات ماشومانو چې له لسو کلونو کم عمرونه یې درلودل، مخ پر ودې هېوادونو کې یوازې د یو ساده متن د لوستلو زده کړې ورکول شوې دي، په ۲۰۲۱ کال کې به موږ له ټولو فرصتونو ګټه واخلو او دغه شان به روان وضعیت ته بدلون ورکړو.»

خو په افغانستان کې دا ورځ په داسې حال نمانځل کېږي، چې په ټول هېواد کې دری میلیونه او ۷۰زره ماشومان له زده کړو بې برخې دي.

دا هېواد د ۱۱۷کلونو په تېرېدو، چې لومړنۍ پرمختللی ښوونځی یې هاغه مهال جوړ کړی و، لا هم د ټولو لپاره د زدهکړو د زمینې په برابرولو کې ستونزې لري.

د شمېرو له مخې، اوسمهال د افغانستان د ښوونځیو شمېز ۱۸ زرو ته رسیږي چې اته میلیونه افغان ماشومان پکې زده کړې کوي چې ۲۵سلنه یې نجونې دي، خو د نجونو د زدهکړو په وړاندې کلتوري مسایل لا هم ښایيستره ستونزه وي.

پوهنې وزارت وایي چې جګړه، بېوزلي او یو شمېر ټولنیزې کلتوري ستونزې د ماشومانو د زدهکړو پر وړاندې عمده خنډونه دي.

د یاد وزارت ویانده نجیبه ارین زیاتوي: «په لرې پرتو سیمو کې د هلکانو په پرتله د نجونو لاسرسی زدهکړو ته کم دی، خو بیا هم د قناعت وړ دی، موږ په دې اړه هڅه کوو چې د نجونو شمېر زیات کړو، په ډېرې لرو سیمو کې چې زدهکړو ته لاسرسی سخت دی، موږ هلته سیمهییز ټولګي جوړ کړي، دغه شان مو د سواد زدهکړې ټولګي جوړ کړي، چې ټول خلک وکړای شي زدهکړې وکړي.»

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د سلواغي شپږمه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۲۵مه | ٦٦٩مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۳ | ۱۲ | ۶ | ۱۹ | ۸ |
| -۵ | -۵ | ۱ | -۳ | ۲ | -۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۵ | لمر ختل ۰۶:۵۶ | ماسپښین ۱۲:۰۶ | مازیګر ۰۳:۳۸ | ماښام ۰۵:۱۶ | ماخوستن ۰۶:۴۳

## نړۍ



د روسيې لاريونونو ته غبرګون؛

امریکا: روسیه دې نیول شوي زرګونه لاریونوال ژر تر ژره خوشي کړي

۳

## یافته‌ها: قرض بیش از ۱۰۰ میلیون دالری غضنفر گروپ، وزارت دفاع را با کمبود بودجه مواجه کرده است



قرض بیش از ۱۰۰ میلیون دالری شرکت غضنفر گروپ، وزارت دفاع ملی را با کمبود بودجه مواجه کرده است. براساس اسنادی که در اختیار روزنامه ۸صبح قرار گرفته است، مسؤلان وزارت دفاع ملی از وزارت مالیه خواستار کمک ۱٦ میلیون دالری در سال جاری شده‌اند.

وزارت دفاع ملی دلیل این درخواست را پرداخت نشدن قرض شرکت غضنفر گروپ عنوان کرده است. این شرکت ۱۲ سال پیش ٦۵ میلیون دالر را از کمک‌های جاپان به دست آورده بود و آن را باید دوباره به خزانه دولت برگشت می‌داد، اما با گذشت ۱۲ سال، این پول به خزانه دولت برنگشته است و در حال حاضر با ۱۸ درصد تکتانه و جریمه، به بیش از ۱۰۰ میلیون دالر می‌رسد. افزون بر این کار، شرکت غضنفر گروپ و شرکت‌های وابسته به آن از پنج تا هفت سال اخیر مالیات دولت را نپرداخته‌اند. مسؤلان در این شرکت حتا در روزهای اخیر تلاش کرده‌اند تجهیزات مربوط به حکومت را با قرضه‌شان معاوضه کنند و وزارت مالیه نیز با آن توافق کرده است. گفتنی است که پیش‌تر محمدیوسف غضنفر، مالک این شرکت، در کمپاین‌های انتخابات ریاست جمهوری در کنار رئیس جمهور غنی ایستاد و سرانجام پس از مراسم تحلیف به عنوان نماینده ویژه رئیس جمهور تعیین شد.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر نږدې سل میلیونو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۹۹میلیونه او ۴۲۱ زره او ٦۴۹ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۱۳۲ زره او ۲٦۷ کسان مړه شوي او له ۷۱ میلیونه ډېر ترې ښېرته رغېدلي دي. د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۵ میلیونه او ۵٦۹ زره او ۸۸۳ ته رسېدلي او ۴۲۷ زره او ٦۳۷ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ٦۵۸ زره او ۸۸٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازیل د اته میلیونه او ۸۱٦ زره او ۲۵۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۷۱۹ زره او څلور سوه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د درې میلیونه او ٦۱۷ زره او ۴۵۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: د هالنډ پولیسو د نشه‌يي توکو تر ټولو لوی نړیوال قاچاقبر نیولی





د راپورونو له مخې، د هالنډ پولیسو هغه کس نیولی چې ادعا کېږي د نشه يي توکو د قاچاق یو ستر مشر دی او د هغو مشهورو فراریانو له ډلې دی، چې پولیس یې له کلونو راهیسې د نیولو هڅه کوي.

دغه کس چې تسي چي لوپ نومېږي، کاناډايي دی او د هالنډ د پولیسو په وینا، د هغې شبکې مشري کوي چې د اسیا-ارام سمندر په حوزه کې په کال کې شاوخوا د ۷۰میلیارډ ډالرو په ارزښت نشه‌يي توکي قاچاق کوي.


د هالنډ د پولیسو یو ویاند توماس الینګ ویلي چې پولیسو د کشفي اطلاعاتو په اساس له کومي نښتي پرته تسي د امسټردام په سخیپول هوايي ډګر کې نیولی دی.

الینګ ویلي، چې دغه قاچاقبر به ژر محکمې ته حاضر او بیا به بل هېواد ته واستول شي، خو دا یې نه دي ویلي چې کله به په هالنډ کې محکمې ته وړاندې شي او کوم هېواد ته به واستول شي.

د ملګرو ملتونو د سازمان د نشه‌يي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې اداري د رپوټ له مخې، د اسیا-ارام سمندر د نشه‌يي توکو د قاچاق شبکه په وروستیو پنځه کلونو کې څلور چنده ستره او پراخه شوې ده. د هالنډ پولیسو دغه راز ویلي چې تسي ۵۷کلن دی او د کاناډا د تورنټو ښار اوسېدونکی دی.


## ژونـــــد

## د سامسُنګ ګلکسي بډز پرو او ګلکسي ټيګ



سامسُنګ کمپنۍ د ګلکسي ایس۲۱ لړۍ د دریو ځیرکو موبایلونو تر څنګ، خپل ګلکسي بډز پرو نومې غوږۍ او ګلکسي ټيګ هم معرفي کړل. ګلکسي بډز د سامسُنګ کمپنۍ نوې پرمختللې وایرلېس غوږۍ ده چې د ډیزاین په برخه کې ګلکسي بډز پلس ته ورته، خو د ځانګړنو له پلوه غوره او پرمختللې ده. ګلکسي بډز پرو د غږ کیفیت غوره او د فعاله نوایز کېنسلېنګ ځانګړنه هم لري. دغه غوږۍ کې د غږ کیفیت غوره کولو لپاره ۱۱ ایم ایم ووفر هم ورکړل شوی دی. دغه غوږۍ ډېر پرمختللي ځانګړني لري چې د اړیکې نیولو، ورته وخت کې د سامسُنګ کمپنۍ دوو اوزارو سره وصل کولو، د کاروونکي غږ اورېدلو او داسې نورې ډېرې اسانتیاوې لري. دغه غوږۍ ٦۱ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري چې په مرسته یې یو ځل چارجولو سره په پرله‌پسې توګه ۵ ساعتونو پورې د کارونې وړ وي. پوښ کې یې ۴۷۲ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ځای پر ځای شوې چې له چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. د دې غوږۍ بیه ۲۰۰ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

## ټنبل ذهن څنګه وي؟



د فزیکي لټۍ په اړه خو ټول پوهیږو، ایا تر اوسه مو د ذهني لټۍ په اړه فکر کړی؟ پر ذهني لټۍ اخته کس څنګه پېژندلی شو؟ ذهني ټنبل کسان د دې پر ځای چې فکر وکړي کارونه څه ډول تر سره کړي، له کار څخه لاس په سر کېږي او وایي «زه خسته یم»، دا کسان ښتیا چې پر ذهني لټۍ اخته دي. هغه کسان چې پر ذهني لټۍ اخته وي، تل د کار د تر سره کولو پر ځای د کار د نه کولو لپاره بهانې لټوي، د دې پر ځای چې فکر وکړي څه ډول کولای شي کارونه په سم ډول مخته یوسي، زړه نا زړه وي. ډېر ژر له هغه کار څخه لاس په سر کېږي او پرېږدي یې. که په تاسو کې هم دغه نښانې موجودې وي، نو تاسو پر ذهني لټۍ اخته شوي یاست! او که چېرې یوه زره مینه هم له خپل ژوند سره لرئ او غواړئ بریالي اوسئ، نو فکر وکړئ، خپل ژوند ته متوجې شئ او بهانې مه لټوئ. په فکر کولو سره خپل ذهن ته تمرین ورکړئ او خپل ذهن په فکر کولو سره پیاوړی کړئ.




د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزی بانک
Azizi Bank